دويمه کچه

# تخم ساتونکي

education above all
التعليم فوق الجميع




**ليکوال:** بيجال واچهاراجاني
**انځورګر:** جايش شيوان


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .





د پنبې بزګران اندېښمن دي.
د تېر کال حاصل ډېر خراب و.

اوس دوبې دی، د پنبې تخم د کرلو وخت دی.
خو د دوی په کلي کې، په کافي اندازه د ځايي او عضوي تخمونو لاسته راوړل ډېر ستونزمن کار دی.

**"څه باید وکړل شي؟ څه باید وکړل شي؟"** چمن ګل په سوچ او فکر کې غرق دی. **"مونږ له یوې سترې ستونزې سره مخ یو."**



ليلى وايي، ”د بازار تخمونو باندې ډېر لګښت راځي!“
غوټۍ وايي، ”دغه تخمونه د زرغونېدو لپاره حشره وژونکو درملو او کيمياوي توکو ته اړتيا لري.“

چمن ګل وايي، ”مونږ داسې تخمونه غواړو چې دلته په خوښۍ سره وټوکېږي، داسې تخمونه غواړو چې زمونږ د سيمې خاورې او موسم لپاره بيخي مناسب وي.“





**”څه باید وکړل شي؟ څه باید وکړل شي؟“** ګل آغا وویل. **”مونږ له یوې ستړې ستونزې سره مخ یو.“**

ليلى او غوټۍ د ښځينه بزګرانو د يوې ډلې غړې دي. هغوی غونډې دايروي.
هغوی د کلي ملک سره ملاقات کوي.
هغوی د بزګرانو ډلو سره خبرې اترې کوي.



**”څه باید وکړل شي؟ څه باید وکړل شي؟**

هر سړی په فکر کې دی

**”مونږ له یوې سترې ستونزې سره مخ یو.“**



د څو ورځو خبرو اترو وروسته، هر سړی خوښ برېښي.
لیلی وايي، ”مونږ پوهېږو چې څه وکړو. یوه ستونزه هم دومره غټه نه ده. مونږ به یو بانک پرانېزو! “

چمن ګل پوښتنه کوي، ”بانک به مونږ سره څنګه مرسته وکړي؟“
غوټۍ وايي، ”د پیسو بانک نه، بلکې د تخمونو بانک.“



بزګران د تخمونو د یوه بانک د منځته راوړلو لپاره سره لاسونه یو کوي.
هغوی خپل لږ لږ تخمونه چې په کورونو کې یې لري، بانک ته سپاري.





د تخمونو بانک هم د پیسو د بانک په څېر فعالیت ترسره
کوي!
خلک بانک ته ځي چې خپلې پیسې خوندي کړي.
د تخمونو په بانک کې، بزګران تخمونه ساتي!









**پخواني تخمونه ځايي تخمونه عضوي تخمونه**

د پنبې تخمونه
د بامیې تخمونه
د کدو تخمونه
د شولو تخمونه
د ږدن تخمونه
د سرو نخودو تخمونه

**دومره ډېر تخمونه د خوندي ساتلو لپاره**









ښاپېرۍ له بانک څخه یو کیلوګرام د پنبې تخم په پور اخلي. لیلی په دقت سره دا معامله په یوه کتاب کې ثبتوي.

هیلۍ یو کیلوګرام د شولو تخم په بانک کې د ساتلو لپاره سپاري. غوټۍ په احتیاط سره دا تخمونه په یوه لوښي کې ذخیره کوي.

تخمونه کرل او اوبه کېږي. د پشکال (مونسون)
موسمي بارانونه راځي او ځي.



دا د حاصل د راټولولو وخت دی!



سږکال بزګرانو د پنبې ښه فصل لاسته راوړی.
هغوی له خپلو ملګرو سره دا خوښي لمانځي.





ښاپیرۍ له خپل درمند څخه د پنبې ډېر تخم ترلاسه
کوي.
هغه په بانک کې د یو نیم کیلو پنبې تخم په تحویلولو
سره خپل د تخم پور له سود سره بېرته ستنوي.

غوټۍ په احتیاط سره دا معامله په کتاب کې
ثبتوي.
لیلی په احتیاط سره تخمونه د ساتلو لپاره په
لوښي کې ذخیره کوي.

د تخمونو په بانک کې اوس زښت ډېر تخمونه دي.
د راتلونکي لپاره تخمونه.
د راتلونکي کال پسې بل کال لپاره تخمونه.
او هغې پسې بل کال لپاره هم!

د پنبې بزګران اوس نور **له غټې ستونزې** څخه بې غمه دي.
ځکه چې د هغوی د تخمونو بانک **ډېر غټ** دی!

تخمونه هرې خوا دي، په بانک کې،
په کرونده کې!



**د تخمونو بانکداران**

مونږ د خوړو د زرغونولو لپاره تخمونو او د کالو لپاره ریښې (فائبر) ته اړتیا لرو. خو په تخمونو ډېر زیات لګښت راتلای شي. ځینې تخمونه، چې دوه رګه یا هائبرېډ تخمونه نومېږي، د فصل اخیستلو وروسته بیاځلې کرل کېدای نه شي او باید ایسته وغورځول شي. ځینې تخمونه د زرغونېدو لپاره کیمیاوي توکو ته اړتیا لري. دا په جنیټیکي توګه اصلاح شوي تخمونه دي. ځینې نو داسې تخمونه دي چې ښایي د نورې له یوې بلې برخې څخه وي او ښایي ستاسې د سیمې د خاورې لپاره مناسب نه وي.





د ځايي او عضوي تخمونو چې د زرغونېدو لپاره کيمياوي توکو ته اړتيا نه لري، په خوندي ساتلو سره، بزګران اړ نه دي چې له بازار څخه تخمونه وپېري. کټ مټ د يوه عادي بانک په څېر، هغوی کولای شي تخمونه د ساتلو لپاره بانک ته وسپاري. هغوی کولای شي تخمونه په پور راونيسي، او پور له اضافه تخمونو سره يوځای بېرته ستون کړي!

دا کیسه د هندوستان د اوړیسه د بهیمدانګا کلي کې د **ما لانکیشوري تخم بانک (Maa Lankeshwari Seed Bank)** څخه په الهام اخیستلو سره لیکل شوې ده.

یوې مؤسسې، چې **د چیتنا د عضوي توکو شرکت** نومېده، له بزګرانو سره د تخمونو د بانک په پرانېستلو کې مرسته وکړه تر څو خپل د پنبې او نور تخمونه خوندي وساتي.



په افغانستان او د نړۍ په نورو ځایونو کې ګڼ شمېر بزګران د تخمونو د خوندي ساتلو لپاره سره خپلو کې یو لاس شوي دي. زیاتره وخت، مېرمنې د تخمونو د بانکونو عملیاتي چارې پر مخ وړي. دوی ته **د تخمونو بانکداران** یا **د تخمونو ساتونکي** ویل کیږي، ځکه چې دوی له تخمونو څخه ساتنه کوي.





د شمالي قطب په سره او لېرې پرته سیمه کې هم د نړۍ د تخمونو لپاره یو بانک شته دی. دې ته د **سوالبارد د تخمونو نړیواله زېرمه (Svalbard Global Seed Vault)** ویل کېږي. دلته، تاسې کولای شئ له ټولې نړۍ څخه تر ۸،۳۰،۰۰۰ زیات د تخمونو ډولونه پیدا کړئ.

**لاربښودونکې پوښتنې**

1. په کلي کې بزګران له کومې ستونزې سره مخ دي؟ هغوی د دې ستونزې په اړه د څه کولو پرېکړه کوي؟
2. آیا هغوی بریالي کېږي؟ تاسې څنګه پوهېږئ؟
3. آیا تاسې ته معلومه ده چې آیا ستاسې کلی د تخمونو بانک لري؟ آیا ستاسې په اند ستاسې د کلي بزګرانو لپاره مهمه ده چې د تخمونو بانک ولري؟ ولې؟
4. څنګه د تخمونو بانک درلودل زمونږ د چاپېریال په ساتنه کې نقش لوبوي؟
5. د یوې ستونزې په هکله فکر وکړئ چې ستاسې ټولنه/ګاونډ یې لري، چې د کلونو راهیسې حل شوې نه ده. آیا تاسې له خپلې ټولنې څخه داسې ډول ډول خلک په ګوته کولای شئ چې ښايي د دې ستونزې په هوارولو کې مرسته وکړای شي؟